مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال ۲۰۲۴/۰۵/۰۳

# افغانستان په یوه پېړ ی کې

## په افغانستان، د هند سیاسي کړکیچ اغیز

## کوم یو د انګلیس جاسوس و،

## سید احمد که سید جمال الد ین افغان؟

## ۷خپرکی

هند دخزانو وطن واودسروزرو په مرغۍ نامتو و،دعجایبواوافسانو وطن یې باله ... نوځکه په هند کې دختیځې کمپنۍ له جوړېدو وروسته ، بریتانیا غوښتل وروروخپل سیاسي اغیزته پراختیا ورکړي،هند ولکه کړي اودسیمې هېوادونه هم ترخپل استعماري ګواښ لاندې راولي .
ولې بیا هم داهرڅه اسانه اوارزانه نه ول ، که څومره یې ولسونه وکړول،دوی هم په دغه لاره کې ډېرې ستونزې وګاللې ، چې دڅوبېلګولنډیزیې دا سې دی :

۱ــ په تولنیزلحاظ یوه لویه اودرنه پېښه هغه وه چې محمدبن قاسم دحجاج بن یوسف سقفي په سپارښتنه هند ته مخه کړه اود اسلام ددین خپریدو لپاره یې لاره اواره کړه ... وروسي غزنویانو، غوریانو، تیموریانو،لودیانو،بابریانو،سوریانواوابدالیانو، له یوې خوایې دهند خزانې خپلې کړې اوله بلې خوایې هند کې دخپلې عقیدې له مخې دواک اوځواک بنسټ ته لاره پرانسته .

۲ــــ برېتانوي ښکیلاک هم په ۱۷مې پېړۍ کې دختیځې کمپنۍ بنسټ کېښود، ولې داورنګ زیب (۱۷۰۷کې مړ) ترمهاله انګریزانو یوازې دایوه سوداګریزه کمپنۍ بلله ،خوله ده وروسته مغلي ټولواکمنۍ کمزورې سوه اوانګرېزانو بیا دخپل سیاسي واک پراختیا ته ملا وتړله .

ولې بیاهم دمسلمانانو یوه مشرامیر سراج الدوله په۱۷۵۷کال دانګریزانوپه مرکزبنګال برید وکړ،خو دانګریزجاسوسانو له ده سره خیانت وکړاوله له ماتې سره مخ سو.

دهندي مسلمانانو په لړکې یوهم حیدر علي و،چې په ۱۷۸۱کال یې دبریتانیااوفرانسې له اختلاف نه استفاده وکړه اودیوه پاخون په ترڅ کې انګریزان وګواښل،خو دده نامتوزوی ټیپوسلطان دخپل پلار په څېردانګریزانو پر وړاندې ودرېد،ولې بیاهم له انګریزانو سره په مخامخ جګړه کې په۱۷۹۹کال ووژل سو .

۳ــ د۱۸۵۷ کال انقلاب بیادسیاسي اومذهبي شعور لپاره دومره انګریزانو ته خطرناک او له ګواښ ډک وو،چې د« نهرو » خبره انګریزانو له دې وروسته له هندوانو نه په مسلما نانوډېرظلمونه وکړل اودوی یې له هندوانو خطرناک وبلل .

د۱۸۵۷کال انقلاب، نه یوازې مسلمانان په هند کې پاڅونونوته راوبلل ،ان هندي زرتشتان هم پاخون ته وهڅېدل .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

انګريزانوکوښښ وکړچې دمسلمانانوپر وړاندې دقادیانیانواو« بهايي يانو» پرنوم مسلمانان دهغوی پروړاندې راپورته کړي،ولې بیا هم رښتني مسلمانان له دې ونه ډارسول ،بلکې د « دېيوبند» په سيمه کې دمولانا قاسم زوي ديوي مدرسي بنسټ کېښود . مولانا قاسم چې دنانوتاپه سيمه ۱۸۳۲ کال وزېږیداواسلامي زده کړې وکړې،په ۲۵ کلنی کې دهندوستان په انقلاب کې ګډون وکړ اوبيايې مسلمانان يووالي ته راوبلل،خونوموړی په ۱۸۷۹ کال ومړ .

۴ــــ ددې لارې يوبل سترعالم محمود حسن و،چې دهند په ازادي کې دانګریزانو پر وړاندې راپاڅېداودخپلومبارزوله مخې ده ته دخلکو له خوا دهند دپلار( شيخ الهند ) لقب ورکړ سو،چې بیاپه ۱۹۲۰ کال دانګرېزانو له خوا بندي شو .

ولې ددې مدرسې پروړاندې د« علي ګړ» په نوم يوبله مدرسه دسرسيد احمد له خوا جوړه شوه اوهغه وخت چې په ۱۸۵۷کال انقلاب وسودی په همغه ښار کې و،ولې له هغو سره يې ورته نظر نه درلود .

دسيداحمد، انقلابي ضد چلن دانګریزانو لپاره دپام وړ وګرزيداوان دده مدرسه په ۱۹۲۱ کال په رسميت وپېژندل شوه چې په پای کې دعليګړ په نوم پوهنتون ته يې ترقي وکړه .

ددغه اختلاف په نتيجه کې دوه فکري مکتبونه مينځته راغلل، چې په پای کې دعليګړمدرسه دديوبنددمدرسې پر وړاندې سياسي ډګر ته راووته اودغو دوه فکري نظرېيوته لاره پرانسته اومسلمانان يودبل په وړاندې ودرېد ل .

له دې نه خطرناکه خبره دسيد احمد په تفسير کې داوه چې دټولو مسلمانانو احساسات يې راوپارول او داحمدامين دکتاب له مخې ( ۱۳۱ مخ ) داسلام د سترپيغبراوقرانکريم په تړاوناسمي څرګنوني وې، نوځکه خو دديوبندعلماودی تکفير کړاوکله چې دی ۱۸۶۹کال انګلستان ته لاړنور هم دمسلمانانو دنفرت وړ وګرځېد .(وګوری زعما الاصلاح مخ۱۳۱)

۵ ــــ سيداحمدخان نه يوازې له ديوبنديانوسره ستونزه درلوده ،بلکې سيد جمال الدين افغان سره يې هم دنظر اختلاف درلود .

سيد جمال الدين افغان دامير شيرعلي خان دواکمنی په مهال له افغانستانه ووت او په ۱۸۷۹کال له مصر نه هند ته په داسي وخت کې ورسېد چې سيداحمد خان په هند کې بلوا ګډه کړې وه .

د « نيچرييزم » دليکني په تړاوسيداحمدخان اوملګري يې سيد جمال الدين افغان ته په لومړي سرکې په ښه نظر ول،ولې کله چې دحيدر اباد دمدرسي يوه مدرس له سيدجمال الدين افغان نه ديوه ليک په ترځ کې دنيچريزم دبداعت پوښتنه وکړه ، نوسيدجمال الدين افغان په ځواب کې ووېل ، « په دغه رساله کې دبداعت ريښې اوتاريخي بهيرله پخوانی زمانې نه تراوسه پورې بيان شوی دی اوکوم څه چې اسلام ته په ګټه اوزيان دي ... هغوته هم ګوته نيول شوې ده . »

داهمغه رساله وه چې شيخ محمد عبده ، دعارف افندي،چې دسيدجمال الدين افغان له شاګردانو څخه وو، په عربي ژبه « الردعلی الدهريين » تدوين کړه .

وروسته څرګنده سوه،چې دده عقيده دسيداحمدخان په وړاندې داسې وه ،لکه څرنګه چې دهند دنوروعلماوونظريه وه اوهغه يې په الحاد اوبې ديني تورن کړی واو دهغه افکار يې تقبيح کول .

دهند دعلماوونظر داوو،چې « احمد خان اوپيروان يې منافقان بلل » اوسيدجمال الدين افغان هم خپله عقيده ،په «عروت الوثقي » مهالنۍ کې چې له پاريس نه خپرېده په ډاګه کړه.

نه يوازې نوموړی په دې عقيده و، بلکې دعليګړ دپوهنتون يوتن محصل ،دهند نامتو تاريخپوه سيد طفيل احمد هم دسيد جمال الدين افغان اودديوبنديانو ، دهغو خبروپخلی کړی دی ،چې دسيد احمدخان دعقيدې په اړه يې کړي دي .

بياهم يوشمېر څېړونکو دده ځنې هڅې ستايلي دي ، په ځانګړې توګه دغه ډله ټينګار کوي ، دی واودده يوشمېر شاګردان ول چې دپاکستان تاسيس ته يې لاره اواره کړه .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

انګريزانودخپل واک په مهال يوشميرهندي ځوانان مسلمانان اوهندوان دلوړو زده کړو لپاره هندوستان ته واستول ،چي دخپلو زده کړو په ترڅ کي دبريتانيا له دموکراسی سره هم اشنا سول .

کله چي بېرته هندوستان ته راستانه شول ، نودا هغه مهال دی چي دهند په لويو ښارونو کي سياسي ناستې ولاړې ډېرې شوې وې،چي موږ کلکته اوبمبي دساري په توګه يادولی سو .

دهمدې سياسي هڅو په لړکي د« جميعت اصلاح په نوم » ديوه سياسي خوځښت دجوړېدو تابيا وشوه ،چي بيا همدغو کسانود « کانګرس » بنسټ ته لاره خلاصه کړه .

لومړنۍ غونډه چي په ١٨٨٥کال د « بونارجي » په مشري ترسره شوه، ده په خپله وينا کي ووېل،بريتانيا دهند په ګټه ډېرکارونه سرته رسولي دي ...

دکانګرس دجوړېدو په تړاو داسي انګېرني هم شتون لري چي په لومړي سرکي ددې ګوند دجوړېدو هڅي انګريزانو پيل کړې او مسټرالن هيوم ، ددې ګوندجوړېدونښتګربلل سوی دی .

۶ـــ دکانګرس د رهبرانوپه لړ کي يوبل تن ګوپال کرشنا ګوګيل وويل، « دهند سياسي خير په دې کي دی ،چي له برېتانيا سره خپلې دوستانه اړيکي وساتي .»(الهند والغرب ٢٢ مخ )

کانګرسيانو کوښښ کاوو ،چي مسلمانان هم په ګانګره کي رادننه کړي اوپه لومړنۍ ناسته کي دبمبېي نامتو سوداګرسيد رحمت الله هم ونډه درلوده ،چي دګډونکوونکوشمېر٧٨ تنو ته رسېده .

دويمه غونډه چي دبونارجي په مشرۍ په کلکته کي چي هغه مهال دهند مرکزوجوړه شوه (١٨۶٨م) دغړوشمېر يې ۴٣۶تنو ته رسېده،چي ٨٣ تنه په کي مسلمانان وو.

لومړي سرکي انګرېزانو دګنګرې په جوړولو کي مرسته وکړه ، ولې کله چي وليدل ، دهرې ورځي په تېرېدودپراختيا اوپرمختيا په حال کي دی ددوی اندېښني يې زياتي کړې .

الفستېون په ١٨٢١کال وليکل،تقسيم يې کړئ حکومت پرې وکړئ اوسرجان ملکم هم وويل ،که غواړودهند په دې پراخه ځمکه حکومت وکړو ،خلک يې پخپلو کي ووېشئ ...

« جان مينور» دبريتانيا دپارلمان غړي دپنجاب والي ته ووېل،دهندوانواومسلمانانو نايووالی اوبې اتفاقي دانګرېزانودواک په مهال رامينځته شوه .

انګريزانو له همدې وېرې ،دسيداحمد په څېرکسان وروزل اوبيادمستر بيک په کوښښ د«ّهېوادپالوټولنه » جوړه شوه اوسيد احمد اعلان وکړ چي په کنګره کي دمسلمانانوګډون جايز نه دی،چي بيا کنګره په دوه برخو ووېشلی شوه .

ولي دسيد احمد دحزب پروړاندې شيخ عبدالقادردهيانوي،مولانا رشيد احمد ګنګويي اوددوئ ځوان شاګرد مولانا محمودوويل،چي مسلمانان بايددګنګرې سره مخلفت ونه کړي ،خو مستربيګ وويل ،دمسلمانانو ګډون مطلق حرام دی

دانګريزانو بل ګام داوو چي مسلمانانو ته يي په پارلمان کي ځانګړې چوکۍ وټاکلي اودهمدې پريکړې له مخي په ١٩٠۶کال،نواب محمداسمعيل،نواب محسن الملک،اقاخان چي دغه مهال په برېتانيا کي وو،ددې وړا نديز هرکلی وکړ اومسلمانان چي ټول عمردانګرېزانو مخالف وو، له خپل چلن نه لږو زيات را وګرځېدل .

دلته دی چي مسلمانانوپه ١٩٠۶کال دډسمبرپه ٣٠مه دنواب وقا رالملک په مشرئ دمسلم ليګ په نوم ديوه سياسي جميعت بنسټ کېښود .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په دغه جمیعت کې ترډېره برېده اشراف اوشتمن خلک راټول ول ،داسي کسان په کې نه ول لکه څرنګه چي مولانا محمودالحسن،مولانا رشید احمد اومولانا محمد قاسم چي په ۱۸۵۷ کال یې دانګریزانو پر وړاندې وسله وال پاڅون وکړ .

دفرانسي نامتو لیکوال رومن رولان وایي،دهندمسلمانان هغه زړورکسان ول چي دخلافت په کنفرانس کې پرېکړه وکړه ،که چېرې دهند دولت ددوی له غوښتنوسرغړونه وکړي ، نوددولت پروړاندې به ودرېږي،چي ګاندي هم ددوی دخبرو پخلی وکړ .

۷ ــــ ددغوسیاسي پېښوپه رڼاکې ګاندي د ځا ن لپاره د« عدم تشدد » دغورزنګ لاره پرانسته اودی پخپله د۱۹۰۸کال دهغه زندان کیسه کوي،چي دی په کې بندي و : « یوه ورځ مي د زندان مسول ته وېل،یوکار وکوه چي په خوړوکې لږ مالګه واچووم اوده په جواب کې ووېل ، ښاغلیه!دامیلمستون نه دی چي ته ورته راغلی یې،چي ته ترې خوند واخلې !!

ګاندي چي داخبره واورېده اوبیا چي له زندان نه ازاد شو ، نووې وېل انسان ولي دخپلوهیلواونفس نوکر شي ؟ یا ولي دخپل ژوند په بهیر کې ، له خپلو ناکا مېیوزده کړه نکوي ؟؟

همدالامل وو چي ده بیا دمالګې اوچاې له څښلو نه ډډه وکړه، هم یې روزه ونیوله اوخپلې کورنۍ ته یې هم ووېل ،چي دوی هم ځان وازمویي !!

حال داچي ، کله مولا نا حسرت مهاني دکنګرې لپاره لایحه وکښله اوتینګار یې وکړچي دکانګرس لویه موخه له انګریزانو دخپلواکۍ ګټل دي... خودغه لایحه دګاندي له غبرګون سره مخ سوه اورد یې کړه .

ولي ګاندي وروسته دهغه شخصیت وستایه اووې وېل،رښتیاهم چي دی یورښتنی مبارزدی سره دهغې چي موږ په وار وارد نظر اختلاف درلود .

دهند دمسلمانانویوبل نامتوعالم د « دشاه ولي الله دهلوي » زوی مولانا شاه عبدالعزیزدهلوي،خپله تاریخي فتوا داسي وړاندې کړه :

« دهنداسلامي هېواد انګریزانو دجګړې ډګر ګرځولی دی،په کار دی چي هرنرمسلمان اوهره ښځه مسلمانه دانګریزانو پروړاندې ودرېږي،چي انګریزان اړشي اودهند هېواد پرېږدي ، ځکه چي انګریزان دمسلمانانودښمنا ن دي ... »

( تاریخ الاسلام فی الهند ۳۵۲ـ ۴۱۲ ـــ ۴۲۵مخونه )،ولي له ټولو نامتودیني عالم مولانا محمودالحسن و،چي له انور پا شا اوجمال پاشا سره یوځای یې له هند نه دانګریزانودایستلو هڅه کوله .

مولانا ابوکلام ازاد هم ووېل،موږ باید دخارجانوپر وړاندې وسله وال پاڅون وکړو او ظالم، مسلمان حاکمان هم پرې نږدو چي په مسلمانانو اوانسانانوبا ندې تېری اوبرېدونه وکړي .

۸ ــــ دنهروله څرګندونو نه برېښي،چي ګاندي اونامتوفیلسوف شاعر« ټاګور » هم په لومړي سرکي دخپلواکۍنظریه په سرکي نه درلوده،ولې عامو هندوانوله مسلمانانو سره ددې نظرې پخلی کاوو،چي هند خپلواکي ترلاسه کړي اوان ترڅې چي هندوان دډهلي جامع جومات ته راغلل اوله مسلمانانو سره خپل یووالی اعلان کړ ، چي ګاندي هم پخپلویادښتونو کې ورته اشاره کړې ده اوان ددې خبرې یادونه هم شوې چي هندوانو له مسلمانانوسره دنږدې والي په موخه په لوی اختر کي دمسلمانانو غوندي غوایان قرباني کړل .

ګاندي چي ولیدل هندوان اومسلمانان دانګریزانو پروړاندې خوله په خوله دي ، نوبیایې له نږدې دوستمولانا محمدعلي سره چي ټل به ډېلي ته راغی نوشپې به یې له ده سره کولې ،نوسیاسي مشورې یې ترې واخسته،چي غواړي مسلمانان اوهند وان سره نږدې کړي... ولي کله چي دی دګانګرس مشرسواوګانګرې چي دمسلمانانوپر وړاندې سخت دریځې ته مخه کړه،مولانا محمد علي ترې مخ واړوو .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

محمد علي جناح بيا کوښښ کاوو ،چې دمولانا محمدعلي په څېر شخصيتونه ځان پسې روان کړي ، چې د پاندېت مالاويا په څېرمتعصب هندوان ترشاوتمبوي اودغه پانديت په دغه وخت کې د« مذهبي جمعيت » رهبرو .

نهروددې خبرې پخلی هم کړی دی ، چې ويلي دي لومړی سړی چې دپاکستان نغمه يې وکښله،هغه سترشاعراونامتو فيلسوف ډاکتر محمد اقبال ،چې غوښتل يې هندووېشل شي او دمسلمانانومستقل دولت جوړ سي اوداهغه مهال دی چې مولانا محمد علي اومحمدعلي جناح دواړه لندن کې وو.

۹ ـــ هغه وخت چې اقبال دمسلم ليګ مشرغوره سو، محمد علي جناح له دېروناهيليېو سره په بريتانيا کې اوسېده ... پاکستان غوښتونکويوشمېرکسانو ۱۹۳۲کال بريتانيا ته سفر وکړاوله محمد علي جناح نه يې وغوښتل چې هند ته راشي ، ولې دنومړي سياسي ګيلي اونانډرۍ دومره ډېرې وې ،چې د دوئ غوښتنو ته يې غاړه کېنښوده .

په ۱۹۳۳کال نواب زاده لياقت عليخان انګلستان ته لاړاوهغه ته يې رسمي بلنه ور کړه ،چې هند ته ر اشي اوخلک تاسوته ضر ور يت لري اوتاسو يوا زينی شخصيت يې چې ولس تاسو غوا ړي اوستا په راتګ به په مسلم ليګ کې نوې ساه وچلېږي .

دا داسې مهال دی چې مسلم ليګ ګوند خپل نامتو ر هبر مولانا محمد علي له لاسه ورکړی واوپه ۱۹۳۱کال ومړ اويوبل تن دمحمد شافعي په نوم چې کلونه کلونه په دې ساز مان کې تېرکړې و، ددې ګوند له مشرانو څخه ګڼل کېده هم مړ شوی و.

له يوې خو اپه مسلم ليګ کې د رهبرۍ تشه موجود وه اوله بلې خوا بريتانوي چار واکوته يومنلی شخص و، نوپه ۱۹۳۴دراېوپه اتفاق پريکړه وشوه چې جناح دې ترپايه پورې دمسلم ليګ رهبر وي .

دادي محمد علي جناح اوانګريزانو غوښتنه وه،نو پر همدې بنسټ محمد علي جناح هند ته راستون شواوکله چې په ۱۹۳۸او۱۹۴۲ په هند کې ټولټاکنې وشوې،مسلم ليګ يوڅه برياليتوبونه ترلاسه کړ ل .

تر دغه مهاله هم محمد علي جناح دهند دويش په فکر کې نه وو ،ولې اقبال له ۱۹۳۰ کال نه په دې فکر کې واوکوشش يې کاووچې جناح هم بايد دده دفکر پخلی وکړي .

په ۱۹۳۷کال ده ديوه ليک په ترځ کې له جناح نه وغوښتل،ايا ددې وخت نه دی چې دمسلمانانويوحکومت جوړ کړو ؟ داچې په جناح داقبال فکري اغيزپروت واومسلم ليګ هم ترډېره بريده دداډول خوځښت پخلی کاوو،نوجناح چې دانګريزانونظرهم ورسره و دېته غاړه کېښوده .

حال داچې دپاکستان دجوړېدوپه اړه ،په ۱۹۳۳کال ددې طرحي ،(داستادقدري قلعجي په اند) له مخې اقبال نه دمسلم ليګ غړو توضيحات وغوښتل ، هغه ور ته ځواب کې ووېل هو،خودېروته يوه خيالي نظريه معلومه شوه .

اقبال په ۱۹۳۸ کال داپر يل۲۱ مه ومړ،خو دده نظر په اوطرحه مسلم ليګ ونه منله اوکله چې په ۱۹۳۹ کال دويمه نړيواله جګړه پيښه شوه،په دغه وخت کې دهند نايب الحکومه لارډ لينليتګو و اوهغه اعلان وکړچې هند بايد په نړيواله جګړه کې ورګډ شي .

ګاندي دخپلوسياسي اومذهبي عقايدو له مخې اعلان وکړ،چې دوئ په جنګ کې برخه نه اخلي بايد له هټلر سره دروغې جوړې له لارې چلن وشي ، ولې يوې بلې ځواکمنې جبهې دابوکلام ا زاد په رهبرۍ ووېل ،په هغه صورت چې له جنګ نه وروسته انګر يزان دهند ازادي ومني باک نه لري .

دابوکلام ازاد طرحې په ګانګرس کې کر کېچ ر امينځته کړاوپه دې پريکړه وسوه ،که چېرې له جګړې وروسته دهند خپلواکي په رسميت وپېژندل کېږي په هغه صور ت کې هند کولی شي په جنګ کې برخه واخلي .

همدالامل و،چې دامريکا ولسمشرروزولټ په بريتانيا فشار راووړ،چې دهند په اړه په خپل سياست کې بدلون راولي اودهند دخلکو غوښتنو ته غاړه کېږدي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ولي مسلم ليګ دهند دويش خبره جدي کړه اوجناح په لاهور کي دمسلم ليګ غونډه جوړه کړه اوديوه تاريخي پريکړه ليک له مخي داقبال دنظرې ملا تړ وکړچي په ۱۹۳۰کال يي دمسلمانانو دحکومت غوښتنه کړې وه .

مسلم ليګ له انګر يزانو سره په تفاهم اوانګريزان هم په دې فکر چي که کنګر س دهند خپلواکي غواړي،نوبياخودمسلم ليګ نظريه دهند دويش پربنسټ دبريتانيا په ګټه دی ، نوځکه خودبرېتاني صدراعظم چرچل داغوره وګڼله،چي له يوې خوا دامريکا جمهورريس روزولټ په دوی فشار راوړي،چي دزاړه استعمارکمپله په ټوليدودی اوله بلې خوامسلم ليګ داقبال دنظرې پخلی کوي ، نوځکه يي دبرېتاني له ملکې elizabeth alexandra mary windsor سره په مشوره ووېل،we need abit of indai موږ دانډياپوموټی خاورې ته ضروريت لرو .

په پای کي دوه سترګوندونه کنګره اومسلم ليګ يودبل پروړاندې ودرېدل اودکنګری يونامتو مشر« راجا کوپال شاري » ،چي دمدراس وزير اودکنګرې يوپخوانی مشر وو،دمينځګړيتوب دنده په غاړه واخسته اودمسلم ليګ ددوه نظرييوپه ترڅ کي يوموهم نظر داووچي پاکستان بايد جوړ شي ... ولي کانګرس ووېل ، دوی به داهيڅکله ونه مني چي هند وويشل شي .

کله چي د راجا مينځګړيتوب ناکام سو، نوبيا يي له دندې استعفا وکړه اوله کنګرې نه ووت اوکله چي ګاندي په ۱۹۴۴کال له زندان نه ووت،د راجا په ټينګارګاندي په ۱۹۴۴کال دسپتمبرپه ۹مه نېټه دجناح په کور کي خبر وته اړکړاوهم يي دوام ور کړاو

د ې خبرو ۲۰ورځي دوام وکړ ، ولي ګاندي دجناح دغه وړانديز ته غاړه کېنښود ه چي هند وويشلی شي ،خودايي ومنله چي دمسلمانانويوه خپلواکه اداره جوړه شي،ولي دمرکزي حکومت ترکنټرول لاندي به وي .

يوې نامتو ليکوالي « امينت السعيد » پخپل کتاب « مشاهدات فی الهند » کي ليکلي دي، سره ددې چي ګاندي ډېرصفتونه درلودل ،ولي مذهبي تعصب يي هم درلود اواستاد عقادهم ټينګار کړی دی،چي ګاندي يوستر انسان و،ولي يو« برهمنی » شخص واو د

« آهيمسا » ترفکري اغيزلاندي و. ( دغه کليمه د برهما مذهب يوه غوره ځانګړنه ده،چي ،آ، دنفي په مانا اوهيمسا دتعدي اوبدې په مانا )

جواهرلال نهروهم پخپلوځرګندونو کي دېته اشاره کړې ده چي دګاندي جي ځنوکړو وړو زه هم نا رامه کوولم ... ګاندي د« رامراج» لرغونی ېپريوطلايي عصر ګاڼه ، چي بيا راغبرګ شي . » ( وګوری زندګي من ۱۲۷مخ )

ولي نهرو محمدعلي جناح هم تورن کړ چي دی غواړي هندوستان ووېشي ،ولي کله چي مستر بيورلي نيکولس له جناح سره وکتل دنهرودځرګندونويادونه يي وکړه ،ولي جناح ووېل څوک چي زما په نيت شک کوي،مانا يي داده،چي دانګريزانوپه قول اونيت هم شکمن دي .

« بيورلي» بيا له جناح وپوښتل ،چي تاسو انګرېز انو ته وايي، اول هند ووېشی اوبيا ووځی **!؟** جناح ووېل ، سم پوهېد لی ، بيخي همداسي دی ... دجناح له دغو ځرګندونو وروسته يوشمېررسانيو ووېل ،دې خبرودهندوستان دېيښوقاعده په بشپړه توګه واړوله ،چي اوس ويل کيږي ، يووالی ر امينځته که حکومت وکوه...

تفر قه واچوه اوبېرون شه ... **!؟**

۱۰ـــ په ۱۹۴۷کال دجولاي په مياشت کي دپښتونستان په اړه يوه جعلي رېفرنډم وکړ چي ګني د« صوبه سر حد » سيمي خلک غواړي چي پاکستان سره يوځاې شي،که څه هم دسرحدکانګر س له رېفرنډم نه پريکون وکړاودپښتونستان په نوم يي دخپلواک دولت غوښتنه وکړه اوپا کستان چي له انګريزانو سره دمقابلې په نتيجه کي نه، بلکي ددوستی په پابله کي مينځته راغی اودمسلمان نيشنليزم په اړه ليکل شوي اثاريواړخيزه بڼه لري .

پښتونستان په پنځوانجنسيواوپا ولايتونوويشل شوی و، لکه ملکنډ،خيبر،کورمه،شمالي وزيرستاناوجنوبي وزيرستان ،چي هرې اينجنسی پوليټېکل ابجنټ اويواستازی درلوده .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په شمالي وزیرستان کې په۱۹۳۰کال یوستر پاڅون وشو،چې هغه داسلام بي بي کیسه وه چې یوه هندۍ نجلۍ له مسلمان سره واده وکړ .

دهند په دغه مهال تاریخ کې دعبدالغفار خان یادونه هم لړوډېره سوې ده،چې نوموړی له یوشمېرکسانو سره اشناشولکه دترنګزوحاجي صاحب اوابوکلام ازاد(دکانګرس نامتو غړی ) اونور،خودی ډېر زرد۱۹۱۹کال په شاو خواکې د« خلافت » تحریک غړی شو او په ۱۹۲۰ کال له یوې ډلې سره افغانستان ته کډه شو،ولې بېرته زرراستون اوداصلاح افاغنه خوځښت ته یې لاره اواره کړه .

له دې سربېره دخلافت تحریک ایالتي مشر وټاکل سو،لکه په ۱۹۱۹کال کې چې بندي شو،داځل ۱۹۲۱ کال بند ته واچول شواوتر۱۹۲۴ پورې بندي واوبیایې په ۱۹۲۸ کال«پښتون مجله » خپره کړه .

په ده دګاندي اغیز چې هغه دعدم تشد نظریه وه ، ده څوارې له ګانګرس سره پریکون وکړ ، ولې په بشپړه توګه یې پرې نښود...ولې دده مشر وروړډاکتر خان چې طبي کورسونه یې په بریتانیا کې ویلي ول اوله لومړۍ نړیوالې جګړې وروسته چې فرانسه کې یې دنده درلوده ،له خپلې بریتانوۍ میرمن سره هند ته اوله هغه ځایه پېښور ته راغی اوپه سیاست(۱۹۳۱ــــ ۱۹۳۲) کې ښکیل سو،په ځانګړي ډول دکانګرس پلوی واوباچا خان بیا دافغان جرګې په نوم خوځښت رامینځته کړاوپه پښتون خواکې لوې اووړې جرګې جوړولې اوله دې سربیره یې ۱۹۲۹کال دخدایي خدمتګاربنسټ هم کېښود،چې دهمدې کال په پاې کې ګانګرس په لاهور کې غونډه وکړه اودبشپړخپلواکي تګلاره یې اعلان کړه .

تردغه مهاله افغان جرګه اوخدایي خدمتګارلاډېول هند دملي کانګرس غړي نه و،خوکله چې په صوبه سرحد کې مارشالا نافذه سوه ،نوپه ۱۹۳۱ کال په رسمي توګه کانګرس سره یوځاې شول .

۱۱ــــ بل لورته مسلم لیګ په ۱۹۳۷کال پارلماني غونډه وکړه،قیوم خان چې مسلم لیګ ته دنږدې کېدو په حال کې و،بلنه ورکړ شوه ،خودناروغۍ له کبله یې ګډون ونکړ،خودهغه صوبایي وزیردچارسدې خان بهادر سعدالله خان دمسلم لیګ صوبایي ریس ګډون کړی و.

دکننګم او دسکندر میرزا ترمینځ خبرې، له بریتانې نه دقلي خان ملاتړچې له رابنسن سره یې کار کا وو، پیرمانکی،دترنګزوحاجي صاحب زوې پاچاګل،شیر پاو خان بهادرخان ،نواب ظفر علي،تاج علي اونوردباچاخان دلارې مخالفت وکړ .

په ۱۹۴۳کال دمسلم لیګ ریس اورنګزیب خان په ایالتي اسمبلې کې دکابینې دجوړولو هڅې پیل کړې اودکننګم دراضي کولو لپاره یې هغه سره خبرې وکړې،عبدالرب نیشتردمالېې وزیراویوشمېر نوریې په بیلابېلووزارتونوکې په دندو وګمارل .

په ۱۹۴۶کال ټاکنې کانګر س وګټلې اوډاکترخان دسر حد په ایالت کې حکومت جوړ کړ، خودباچاخان نږدې ملګری عبدالغفورخان مسلم لیګ ته واووښت اوحال داچې ډاکتر خان ، نهرو ته ویلي و،چې ټول پښتانه له ده سره ولاړ دي ،خوکله چې دی له نهروسره وزیرستان ته لاړ،ملک خیسور،له نهروسره روغ وبړوکړاوډاکترخان ورته ووېل،ولې دې ماته لاس رانکړ ، هغه ورته ووېل،ځکه هغه خپلو خلکو ته خدمت کړی اوتاهیڅ نه دي کړي .

دغه حقیقت هغه وخت په ډاګه سوچې دهند ملي کانګرس پاکستان ومانه،نونهروخپل پخواني ملګري په تش میدان پرېښودل اودهند وایسراې بټن ووېل ،ترهغې دهند دخپلواکي خبرې بې ګټې دي ترهغې چې دسرحد برخلیک نه وي معلوم شوی !؟

هغه وچې دبریتانیا دمرکزي حکومت په سپاربښتنه دبټن ترڅارنې لاندې ریفرنډم جوړ سو...دجون په ۲مه نېټه بټن ،نهرو،پټیل،کري پالاني له کانګرس نه اوجناح ،لیاقت علی خان اوعبدالرب نشترله مسلم لیګ نه دوۍ سره غونډه وکړه اودخپل حکومت پلان یې ورته په ډاګه کړ .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دواړو لورو يې ژمنه وکړه چې پلا ن عملي کړي ... باچا خان له خپلو ملګرو وغوښتل،چې لږ ترلږه ريفرنډم کې دخپلواکۍ الترناتيف شامل کړي...سرورته وخوځول شو خوعملي اقدام چا ونه کړ اودسرحد کانګرس غړي لاس تر زنې پاتې شول اوځنو چې وليدل باد له کومې خوچليږي لورى واړوو.

۱۲ـــ خان غفارخان هم په ۱۹۴۸په فبرور ي کې کراچۍ ته لاړاوداسمبلې په غونډه کې دوفادارۍ لوړه وکړه اوپه ۱۹۴۸ کال د مارچ په مياشت کې محمد علي جناح پېښنو ته   ر اغی اودګورنر په ماڼۍ کې باچاخان ورسره وليدل اوغوښتنه يې ترې وکړه چې ددوئ مرکزسردريا ته راشي،خوهغه انکار وکړاوور ته وې وېل، تاسې ټول په مسلم ليګ کې شامل شئ .

غني خان چې په ۱۹۴۶ کال دځلمي پښتون په نوم دځوانانو يوسازمان جوړ کړى واو په ۱۹۴۷ کال ددوئ شمېر« ۲۵۰۰۰ زروتنوته رسېده اوپه بيرغ يې دوه تورې کښل سوې وې ،غوښتل يې دعدم تشددخلاف دپښتونستان خپلواکي ترلاسه کړى اوقاضي عطا والله خان هم چې دعايداتووزير ود مې په ۱۳مه ۱۹۴۷کال دپښتنوخپلواک حاکميت وغوښت.

سره دهغې چې خدايي خدمتګار په ريفرنډم کې برخه وانه خسته بياهم دپاکستان په پلوئ راې ډېرې وې ،چې ددې يوبل ستر لامل داووچې دمسلم ليګ په صندق قرانکريم اودکانګرس په بکس بيا دهندوانوکتاب ايښودل سوې وو.

نتيجه داچې دهند سياسي اواقتصادي پېښې چې پيل يې د برېتانيا دختيځې کمپنې له جوړېدو نه وسو ، نه يوازې هند دبريتانوي ښکيلاک منګلو ته پرېووت، بلکې همدارنګه يې په افغانستان هم اغيزه وکړه ، چې درې وارې په افغانستان وسله وال بريد وکړ ،چې دوه بريدونه يې په ۱۹ مه پېړئ ،دپلار اوزوې دواکمنۍ په مهال ( امير دوست محمدخان اوامير شيرعلي خان  په۱۸۳۹ ـــ ۱۸۷۹کال) اودرېيم وسله وال بريد په ۲۰مه پېړئ دامان الله خان دواک په موده کې،ترسره شو،چې په پاې کې امان الله خان دهېواد خپلواکي واخسته ، ولې بياهم انګليس ار ام کېنناست اودامان الله خان د سلطنت په کورنېيو چاروکې لاسوهنې ته لاره اوار ه کړه .


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ